مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۲/۰۴/۰۳

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

اوه څلوېښتمه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یو سلویوویشتمه برخه

د افسوس وړ نه یم عالمه
د کورونا په منځ کې خپله ګرځېدمه

د کورونا له ډاره یاره
سپیره مخ راغلم زما هېر دي سینګارونه

انتظار مه کوه جانانه
د کورونا له ډاره نه شي دیدنونه

که کورونا شوې ما خبر کړه
زه به له ماسک سره پوښتنې له درځمه

د کورونايي لنډیو په دې برخه کې مې دا نوې کورونايي لنډۍ ترلاسه کړې دي:

په کورونا باندې ورواوړې
ته چې پردو کوڅو ته ځې کوې سیلونه

خلک به خود راباندې ژاړي
یو کورونا یم، بل مې نه کوي پوښتنه

د افسوس وړ نه یم عالمه
د کورونا په منځ کې خپله ګرځېدمه

بخت خو پخوا نه هم کوټه و
پرې سرباری شوه کورونا څه به کومه

د ځان ساتنې په راز پوه وې
اوس کورونا شوې تا هېڅوک نه قبلوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راځه، راځه چې دیدن وکړو
که کورونا شوو په خندا بې تېرونه

زه کورونا شوم ته به څه کړې
ځان رانه هېر دی اوس پر تا ژړا راځینه

که کورونا شوې ما خبر کړه
زه به له ماسک سره پوښتنې له درځمه

له کورونا نه تېښته نه شي
ښه چاره دا ده چې کوو به احتیاطونه

له کورونا نه یې خبر شوم
پر ما تېرېږي چا ته نه وایم حالونه

راځه چې بڼ ته لږ چکر شوو
د کورونا شک مه کوه زه روغه یمه

په دیدن ښې سترګې مړې کړه
کـورونـا راغلـه مـا و تـا جـلا کـوینـه

د چکر وخت کې واټن ساته
له لرې، لرې به د سترګو جنګ کوونه

زه مرور نه یم جانانه
د کورونا لپاره لرې درنه ځمه

تا دروازې راټکولې
د کورونا له ډاره زه نه دروتمه

د کورونا له ډاره یاره
سپیره مخ راغلم زما هېر دي سینګارونه

چې هرڅه خورم زه پرې شکې یم
د کـورونـا لـه ډاره ډېـر شـولـو شـکـونـه

انتظار مه کوه جانانه
د کورونا له ډاره نه شي دیدنونه

دا کورونا څومره اوږده شوه
خلکو نه پاتې شول اړین ضرور کارونه

خدای دې په خپله رحم وکړي
ټول وایي جوړ یو په چا نه شته باورونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ